هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامي افغانستان

شماره مسلسل «۲۳٦» سال هفتم شماره «۳۸» دوشنبه «۲۵» قوس ۱۳۷۰ هـ ش مطابق «۱۰» جمادي الاخر ۱٤۱۲ هـ ق ومطابق «۱٦» دسمبر ۱۹۹۱ میلادی

PROPERTY OF ACKU

په سنیګال کښې داسلامي هیوادونو شپږمه سرتولنه پاي ته ورسیده

د اسلامي هیوادونو شپږمه سرتولنه چي د دوشنبي په ورځ د سنیګال په پایتخت «ډاکار» کښي پیل شوي ؤ د چهارشنبي په ورځ پاي ته ورسید .

ددغه کنفرانس په پریکړوکښي دلومړي ځل لپاره د اسرائیلو پرضد جهاد ندي اعلان شوي او د غونډي ګډون کوونکو ویلي دي چي په داسي حال کښي چي .د اسرائیلو او عربو ترمینځ خبري اترې جریان لري داسرائیلو په مقابل کښي دجهادد کلمي استعمال مناسب ندي . حال داچي په ۱۹۸۱ میلادي کال د مکي په سر تولنه کښي داسلامي هیوادونو مشرانو غوښتنه کړي وه چي د بیت المقدس دآزادي لپاره دي مقدس جهاد ته مخه وشي .

همدارنګه کنفرانس د کویټ په اشغال کښي عراق محکوم کړ اوکوم اقتصادي بندیزونه چي د ملګرو ملتونو لخوا په

دزدي و چپاول ملیشه ها ، شهریان جلال آباد را مجبور به خروج ازین شهرکرده است

مهاجرین تازه وارد ازجلال آباد به پشاور میگویند دزدي و چپاول داراني مردم در جلال آباد توسط ملیشه ها و سایر افراد رژیم به اوج خود رسیده و شهریان آن مجبور شده اند تا ازشهر خارج و به مناطق مختلف ولسوالي سرخرود در (۷) کیلومتري غرب جلال آباد که خارج از حیطه، رژیم است ، پناه ببرند .

بقول مهاجرین تازه وارد: شهر درحال تخلیه شدن کامل است ، دکانها تعطیل اند و جاده ها خلوت بوده بجز از افراد محدود رژیم وانگشت شماري ازمردم که نتوانسته اندبجاي دیگر بروند ، کسي دیگر دیده نمیشود .

بنابرین گزارشها : منازل شهرکه تقریباً همه تخلیه شده است ، توسط ملیشه ها مورد تلاشي قرارگرفته اموال آن غارت میگردد .

مواد خوراکي درشهر نایاب است ، درچند دکان محدودي درمند تي ، ۷ کیلو آرد (۲۷۰۰) افغاني قیمت دارد و یك کیلوروغن اگر میسر شود (۱٦۰۰) افغاني فروخته میشود .

قراراظهارات مهاجرین تازه وارد به پشاور ، خانواده هاي که ازشهربه اطراف کوچیده اندمنازل تخریب شده توسط طیارات وتوپخانه روسها با تحمل مشکلات زمستان ، شب وروز مجبوریت را مي گذرانند .

سومین کنفرانس منسوبین تحریك اسلامی افغانستان برگزارگردید

روزچهارشنبه تاریخ (۲۰) قوس کنفرانسي ازطرف منسوبین تحریك اسلامي افغانستان به ارتباط تحلیل ، مناقشه وارزیابي جریانات اخیر سیاسي در دارالایتام جمکني پشاور دایرگردید و درآن تعداد زیادي ازعلماء ، دانشمندان ، اهل خبره وارکان تنظیم هاي جهادي اشتراك ورزیده بودند .

مجلس با تلاوت چند از ایات قرآن مجید توسط استاد احمدزي آغاز یافت و متعاقباً برادر مزمل هدف برگزاري کنفرانس را تشریح نموده و طي سخنان مقدماتي خود گفتند : شرایط سیاسي جهاد تغیرکرده است و آن عده ایکه قبلاً حاضر به سفر مسکو نشدند اکنون قرارمعلوم مذاکرات بعدي را با هیئت روس ها تعقیب مي نمایند ، درین روزها رهبران تنظیم ها در اسلام آباد فیصله، نمودند و روي چند ماده به ارتباط حل قضیه افغانستان متفق شدند و طرحي را امضا نمودند که درمجلس امروزي برادران ما ملاحظات و نظریات خودرا در مورد آن اظهار خواهند نمود . وي به ادامه سخنان خود گفت که در ماده اول فیصله آمده است که وتشکیل شوراي قیادي که رهبران تنظیم ها درآن عضویت دارند و یك تن ازمیان شان بحیث رئیس برگزیده مي شود ، باید گفت که شوراي قیادي گذشته هم نتوانسته است که مشکل مارا حل نماید و معني شوراي قیادي آنست که شوراي بزرگ نیست ودرقضایا همین شوراي قیادي تصمیم مي گیرد. وسپردن مسئولیت افغانستان به یك شوراي قیادي و درنتیجه به یك شخصیکه بحیث رئیس برگزیده می شود مشکل قضیه جهاد افغانستان را نمی تواند حل نماید و به ارتباط این مسایل بین خود شوراي قیادي اختلافات و جنجال بوجود خواهد آمد . درین ماده تصریح نشده است که غیراز رهبران جهادي چه کساني دیگر درآن عضویت دارند .

هم چنان در ماده دیگر آمده است که وتشکیل حکومت موقت اسلامي انتقالي که رهبران تنظیم ها درآن اشتراك نمي کنند » درین ماده معلوم نگردیده است که درحکومت موقت رهبران جهادي هم شرکت ندارندگي غیر ازمجاهدین چه کساني درحکومت شامل اند وحکومت راجي سازند . ودرماده دیگر گفته شده است « توسعه کمیسیون چهل و یك نفري فعلي در حدود شصت الي یکصد نفر » درین ماده نیزموضوع مجهول است ، صلاحیت کمیسیون معلوم نیست که تا کدام اندازه است و ایا کمیسیون مافوق شوراي قیادي است و یا ما تحت آن و با حیثیت مشاوروابه شوراي قیادي دارد .

بعداً محترم مولوي صاحب خالص رهبرحزب اسلامي افغانستان راجع به جریانات سیاسي جهاد مفصلاً صحبت نمودند . گفتند که درین مجلس برادران چیز فهم وتحریکي قراردارند ومن به ارتباط قضیه جهاد سخنان و نظریات که درنزدمن معقول معلوم مي شود بگویم ، مولوي صاحب خالص گفتند : که یك اجتماع ضرورت به یك قانون دارد و اگر قانون الهي نباشد هرکس بخواهش و تمایلات خود قانون مي سازد و مردم باید فیصله نمایند که راه خیر ومصلحت ما در فیصله اسلام است و اگر همه دنیا درمقابل ما یکجا شوند باید از راه خیر که فیصله اسلام است دور نشویم احساس بعضي مردم است که میگویند اگر اسلحه بند شود و امکانات کم شود مشکلات پیدا مي شود و ما نمي توانیم درسنگر

حمل ونقل مواد وسازوبرگ نظامی مورد ضرورت رژیم کابل ازبندرحیرتان درسرحد جمهوری تاجکستان به کابل شدت یافته است

راپورهاي واصله ازمنابع نظامي مجاهدین به (میډیا) حاکیست برحجم انتقال مواد و سایر ضروریات نظامي رژیم کمونیست کابل ازبندر حیرتان افزوده شده و روزانه بیش ازیك صد عراده موتر بزرگ نظامي درحمل سلاح ها و مهمات به کابل حصه میگیرند .

راپورمشعراست : این انتقالات که تحت نظر جنرال جمعه «احك» والي و رئیس تنظیمه ولایت بلخ صورت مي گیرد نشاندهنده، این تصمیم روسها است که ازمدت کمي که به پایان فیصله قطع سلاح ازطرف روسیه و امریکا باقي مانده تاحد اعظم استفاده بعمل اید .

منابع نظامي مجاهدین ازقول بعضي شاهدان عیني راپورداده اند که درجریان نقل و انتقال علاوه ازمهمات واسلحه سبك و سنگین ، تانك و توپهاي دوررزن نیز مشاهده شده است .

طبق اطلاع مواد مذکورقبلاً دردوطرف دریاي آمو درسرحد ذخیره شده و رژیم تلاش دارد تاهرچه زودترآنرا به کابل انتقال دهد .

گفته میشود رژیم دست نشانده، کابل ، نسبت بعضي دلایلي امنیتي و مشکلات موجود اقتصادي ، صاحبان ترانسپورت ها و موترهاي باربري انفرادي را نیز به بیگار گرفته و آنهارا جبراً دراین عملیه سهیم ساخته اند .

بقول منبع این نقل و انتقالات که از ۲۲ نومبر آغاز شده تاهنوز بهمان شدت ادامه دارد .

د الجزایر امنیتي پولیسو ۱۳ تنه مسلمان مبارزین په شهادت ورسول

پاکستان -۱۱ ډسمبر

د الجزایر امنیتي پولیسو ۱۳ تنه مسلمان مبارزین په شهادت ورسول .

د الجزایر په شمال ، شرق سیمه کي دپولیسو اوعامو خلکو ترمینځ په نښتوکي ۱۷ تنه ووژل شول چي په وژل شویو کسانو کي ۱۳ تنه مسلمان مبارزین هم شامل دي .

د خبر پراساس دغه نښته هغه وخت مینځ ته راغله ، کله چي د پولیسو یوي ولي دهغو کسانو د لټولو کار پیل کړ ، کوم چي په یوه حمله کي ئي ۳ امنیتي عسکر په هلاکت رسولي وو .

رژیم تونس برای مبارزه با اسلام گیرایی درانکشور قانون کشف حجاب رابه مرحله اجرا گذاشته است

یك جنبش اسلامي درتونس اعلان کرد که رژیم حاکم براینکشور براي مبارزه با اسلام گیرائي دراین کشور قانون کشف « النهضه » حجاب را به مرحله اجرا گذاشته است .

جنبش النهضه تونس شاخه اروپا در اطلاعیه اي که بتاریخ ۲ دسمبر منتشرکرد اقدامات وحشیانه این رژیم درسرکوب مسلمانان مبارزه با اسلام گیرائي دراینکشور را محکوم کرد .

دراین اطلاعیه آمده است : رژیم تونس که اکنون ازهرگونه نشانه اسلامي به شدت هراس دارد و آنرا خطر جدي در مقابل اهداف غرب زده خود مي داند با معرفي حجاب به عنوان لباس فرقه اي دست به مبارزه وسیع با آن زده است .

به گفته النهضه مبارزه با حجاب متعلمین ، محصلین ، معلمین ، استادان دانشگاه ها و کارمندان ادارات دولتي و بخشهاي خصوصي را شامل مي شود .

جنبش اسلامي النهضه تلاش دولت براي اجراي قانون کشف حجاب

په فراه ولایت کښي ددښمن دوه عرادي ټانکونه اویو جیپ موټر داورلمبه شو

په پیښور کي د مجاهدینو یوه جهادي خبرځاي د فراه له ولایت نه (میډیا) ته ریوټ ورکړ چي مجاهدینو د ډسمبرپه ۱۲نیټه د درنډو وسلو څخه په استفادي سره ددغه ولایت د شینډنډ په ولسوالۍ کي د کاریز الیاس او آب خرما د سیمو ترمینځ د کابل رژیم د

دمنځنی آسیا جمهوریتونو اسلاو اتحادیی سره خپل مخالفت اعلان کړ

عشق آباد دلیندي ۲۳

دشوروي دمنځني آسیا دجمهوریتونو پنځو تنو مشرانو په عشق آباد کښي دخپلي غونډي په پاي کښي داوکراین ، روسیي اوسپینې روسیي دجمهوریتونو دخپلواکي داعلان سره سره ټینګار وکړ له هغه ځایه چي داسلاوواتحادیي دبیانیي په مفادوکښي دمنځني آسیادجمهوریتونو اقتصادي تاریخي او ربښتیني حقوق منل شوي ندي نودغه جمهوریتونه نشي کولاي ددغي اتحادیي سره یوځاي شي .

قزاقستان ، ازبکستان ، ترکمنستان تاجکستان او قرغیزستان جمهورو رئیسانو په خپلو بیانیو کښي دجمهوریتونو ترمینځ داوسنیو پولو اوبین المللي پولو ساتني او دخپل بهرني دفاعي او اقتصادي سیاست په دوام بي ټینګار وکړ .

دپنځو جمهوریتونو رئیسانو په خپلو بیانیو کښي یادونه کړي په داسي بڼه ،کښي چي په راتلونکي کښي دمینسك په تړون کښي دمنځني آسیا دجمهوریتونو تاریخ او اقتصادي لانجي ځاي شي په همغه صورت کښي بـه داسلاو اتحادیي ته ددغو جمهوریتونو ورتګ امکان ولري .

مجاهدینوپه هرات ولایت کښي د مزدور رژیم دوه الوتکی له مینځه یووړي

مجاهدینو د ډسمبر په څلورمه نیټه ددغه ولایت پرهوائي ډګریاندي د درنډو وسلو ډزي وکړي چي دهغو په اثر د کابل د کمونیست رژیم دوه جټ الوتکي چي په هوائي ډګرکي ناستي وي د اورلمبه شوي .

د خبر سره سم پدي پیښه کي دري

غربي متخصصین دشوروي داتومي وسلو دمتخصصینوبیکاره کیدل یوبل خطربولي

لندن – دلیندي ٢٤

داستراتیژیکو مسئلو غربي کار پیژندونکي په اتومي وسلوکښي دشوروي دمتخصصینو په زرګونو انجنیرانو بیکاره کیدل په شوروي کښي داوسنیو ناکرارۍو او بحران څخه را پیداشوي ستره خطره بولي .

دلندن داستراتیژیکو تحقیقاتو دبین المللي مؤسسي رئیس وویل چي په نږدي راتلونکي کښي دشوروي حکومت په دړي دړي کیدلو پسي به هغه په لکونو زره اتومي متخصصین او انجنیران چي دشوروي په اوو ښارونو کښي په کار بوخت دي بیکاره شي .

ده دغه راز عقیده څرګنده کړه چي په اوسنیو ګډو وډو حالاتو کښي داتومي موادو غلا او په بازارکښي بي پلورلو ته دکوچنیو اونامعلومو ډلو دهڅیدلو احتمال ډیر زیات دي .

درارسیدلو رپوټونو په اساس دشوروي داتومي مرکزونو دمامورینو نه وار خطادي اونه پوهیږي چي حتي دهغوي میاشتني معاش به څوك ورکوي .

عراق ته د ترکیې دصدراعظم خبرداري

پاکستان -۱۱ ډسمبر

د ترکیې صدراعظم « سلمان دیرل » خبرداري ورکړي چي دهغه هیواد به دعراق په شمال کښي د کردانو پرخلاف دعراقي حکومت د تشدد په اړه په راتلونکي کي سخت مؤقف غوره کړي .

هغه زیاته کړي ده چي ترکیه به په آینده کښي د عراقي حکومت اوکردانو ترمینځ په هیڅ یوه لانجه کي د سیل بین په توګه پاتي نه شي .

هغه ویلي چي که چیري عراقي حکومت د کردانو پرخلاف خپل تیري بند نه کړي ، نوترکیه به مستقیماً پدي موضوع کي مداخلت وکړي اوله عراق سره به ورته چلند وشي .

کوریاي شمالی وجنوبی باهم پیمان آشتی امضاء کردند

نخست وزیران دوکوریاي شمالي جنوبي روز جمعه پیمان آشتي بین دوکشور را امضاء کردند .

به اساس گزارش رادیو تهران این پیمان بیست وپنج ماده اي پس از پنج مرحله گفتگو ازسال گذشته تاکنون به به امضاء رسیده است . نخست وزیران دوکشور اندکي قبل از امضاي این قرارداد با انتشار بیانیه، مشترکي تاکید کردند که درشبه جزیره کوریانباید سلاح اتومي وجود داشته باشد . پس ازامضاي این پیمان آشتي « روت آي او » رئیس جمهور کوریاي جنوبي خواستار دیدار با کیموسونگ رهبر کوریاي شمالي شد . کیموسونگ گفته بود تا زمانیکه کوریاي جنوبي یك موضع اساسي براي وحدت دوکوریا اتخاذ نه کند حاضر به دیدار بامقامات اینکشور نیست .

افزایش فعالیت سازمان تبلیغات اسلامي در سودان

سودان – ۲۲ قوس

سازمان تبلیغات اسلامي درسودان قصد دارد که درسال آینده به جوانان قاره افریقا توجه خاصي مبذول دارد . خاصتاً سعي وتلاش بخرج خواهند داد تاهویت این اطفال وجوانان مسلمان را بیشتر پیرایش داده وامکانات تعلیم وتربیه را در سرزمین هاي خود شان آماده سازد .

همکاري مشترك بین مؤسسه امور اقلیتهاي مسلمان ومرکز استاد اسلامي المان

جده – ۲۲ قوس

مؤسسه امور اقلیتهاي مسلمان که مرکز آن درجده میباشد ومؤسسه مرکزي استاد اسلامي درشهر زوست آلمان باهم موافقه نموده اند تا درآینده پیرامون اقلیتهاي اسلامي در اروپا همکاري مشترك بنمایند . این خبر چندي قبل ازطرف مؤسسه مرکزي استاد اسلامي در شهر زوست آلمان پخش گردیده است .

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز : اتحاد اسلامی افغانستان

سال تاسیس : عقرب ـ ۱۳٦٤

ناشر : بخش فرهنگی ریاست دعوت وارشاد

سرمقاله

بهره برداری دشمنان از اختلاف ما

روند سیاسي جهاد افغانستان دریك مرحله نهایتاً خطرناك ومهم قراردارد . مجاهدین پس ازچهارده سال جهاد و قرباني بیش ازیکنیم ملیون فرزندان بلند همت این سرزمین ، اکنون دارد مي رود تا ثمره و نتیجه این رستاخیز بزرگ قرن را براي ملت زجر دیده افغانستان ودرنهایت به امت اسلامي تقدیم نموده و ضمایر بیدار امت را بحرکت وقیام دربرابر طواغیت بکشاند .

آري خداوند (ج) این ملت مومن را در روزهاي دشوار جهاد فراموش نکرده ، حمایت بي دریغ و نصرت دوام دارخود را برایشان ارزاني فرمود . سنگرها ورزم گاه هاي که باتوکل خداوندي پیوند خورده بود قادر گردیدند که بزرگترین غول دنیا رابه شرمندگي و خذلان روبرونمایند . مجاهد مردان ما با صبر و استقامت ایکه نظیر آن درتاریخ بشریت کمتر سراغ مي شود ، ماشین جنگي بزرگ و خوفناك کمونیزم را از حرکت بازداشته و ارتش تعلیم یافته و مجهز به سلاح هاي مخرب و تباه کن روس را چنان بزانو درآوردند که دیگر توان بلند شدن را ازجایش ندارد .

بلي ! ازبرکات ، فیوضات و خون هاي مطهر رزمندگان مسلمان ماکه دشت و کوه افغانستان را رنگي ساخت . این جریان واقعیت پیداکرد و جنود رحمان بر اولیاء دوستان شیطان غالب گردید و بساط کمونیزم بعد از هفتادو چهارسال حاکمیت ، قلدري و فریب بر چیده شد و راه اعاده حیثیت ، عزت ، انسانیت و آزادي براي بشریت محکوم هموار گردید . و این همه تحولات سریع در بلوك کمونیزم و فروپاشیدن آن از استمرار و دوام جهاد افغانستان ناشي گردید. کمونیزم دارد گلیم خودرا از ساحه زندگي بشر جمع میدارد و کشورشوراها که حاکمیت مستبدانه آن بر جمهوریت هاي محکوم در ده دهه ادامه داشت اکنون به اوراق تاریخ سپرده شده و دفتراین مکتب هول و هراس ، پوچ و بي معني براي ابد پیچانده خواهد شد .

این سنت جاریه خداوندیست که انجام زرو گویان ، بي خدایان و پیروان ابلیس به ناکامي و شرمساري و ذلت روبرشدني است و تاریخ این واقعیت را ثابت مي سازد که تمام اقوام حق ناشناس سرکش به فرجام بد گرفتارشده و عذاب خداوندي برآنها فرود آمده است و روسها نیز به همین سرنوشت گرفتار شدند .

بلي ! اکنون و درشرایط موجوده تنها شیطان بزرگ امریکائي جهانخوار خودرا یکه تاز میدان به حساب میآورد وحریف دیرینه آن ، کمونیزم رول بزوال نهاده است و امریکا با ارائه به اصطلاح نظم نوین جهاني مي خواهد که سیادت دنیا را بدست گرفته و سیطرت خود را بر دنیاي بشریت و خصوصاً برعالم اسلامي قایم نموده و حفظ بدارد . و سخت درتلاش است تا زمینه، را براي درهم کوبیدن روح جهاد در امت اسلامي مساعد نموده و ازتمام امکانات و وسایل و عمال خود براي خاموش ساختن نداي حریت و آزادي کارگرفته ودر نتیجه مي خواهد تا جلو رشد جنبش ها و حرکت هاي اسلامي بگیرد .

امریکا ازهمه، اولتر متوجه قضیه جهاد افغانستان است زیرا نقطه اتصال و تجمع امت اسلامي را در پیروزي اهداف این جهاد میداند . ازهمینرودرتلاش و فعالیت شدید است تا مجاهدین مؤفق به اتخاذ یك مؤقف واحد و طرح مشترك وهمه، جانبه مطابق اصول وضوابط اسلامي نگردیده همیشه درنزاع واختلاف قرارداشته باشند . و اختلاف ما ، عامل عمده ایست که دست دشمنان اسلام را درجریان جهاد ما دراز میدارد . ترس امریکا بجاست زیرا اگر مجاهدین موفق شوند تایك حکومت راستین اسلامي را که درآن عناصر مشبوه و امریکائي مشرب عضویت نداشته ، تشکیل بدهند و مبارزه و جهاد خودرا با اعدادي که اسلام آنرا درخط مبارزه وجهاد لازم میداند آماده نمود و تا تحقق سیطرت کامل این دین و ختم فتنه، برزمند . آنوقت کاپیتالزم ، به اصطلاح نظم جهاني نوین امریکا وتمام مکاتب کفري به سرنوشت مارکسیزم روبرو خواهند شد .

یکي از راه هاي مداخله کفر و استکبار جهاني در قضیه جهاد ما استفاده از سازمان ملل است . درموافقت نامه مسکو درمورد انتخابت آمده است که حکومت انتقالي موقت درجریان دوسال زمینه انتخابات را تحت نظارت سازمان ملل و سازمان کشورهاي اسلامي مساعد مي نماید » درحالیکه ملل متحد عقیده را بحیث عنصر ذیدخل در امور مردم نمي داند و درچنین انتخابات همه مرتدان و زندیقان با مسلمانان و مجاهدین یکسان شرکت خواهند ورزید و براي خلق و پرچم و دیگر عناصر نا مسلمان نیز راه بازخواهد بود . و سازمان کشورهاي اسلامي که هم بحیث ناظر جریان انتخابات تعین گردیده است قادر برین کارنخواهد بود و در قطعنامه اجلاس اخیر سران کشورهاي اسلامي در سینگال از استعمال کلمه جهاد بمقابل اسرائیل خود داري شده است و درعوض در مقابل اسرائیل رویه نرمش راپیشنهاد کردند . این وزن ، ظرفیت وموقف سازمان کشورهاي اسلامي است .

پس ایندو سازمان چطور میتوانند در قضیه جهاد ما نقش داشته و این صلاحیت را ازکجا بدست آوردندتا نظارت و کنترول انتخابات را بدارند . این

ص۳

ډیپلوماسی مهارت او که له خدایه بغاوت؟

الله تعالی دسوره نحل په (۹۰-۹۲) آیتونو کښې په دې مفهوم فرمائی : « الله دعدل ، ښیگڼی او خپلوی پالنی حکم کوی اوله بدی ، بی حیائی اوزور زیاتی څخه منع کوی ، هغه تاسی ته نصیحت کوی ترڅوتاسی درس واخلی» .

دالله ژمنه پوره کړی، چې کله تاسی له هغه سره کومه ژمنه کړی وی اوخپل قسمونه له پخولونه وروسته مه ماتوی، چې کله تاسی الله پخپل ځان شاهد نیولی وی . الله ستاسی له عملونو څخه خبردی. ستاسی حالت دې دهغی ښځی غوندی نه کیږی چې هغې په خپل زیارسره دتارو سپنځی وریښل اوبیابې په خپله ټوټې،ټوټې کړل . تاسی په خپل منځ معاملو کښی قسمونه دټگی او غولونی وسیله گرځوی، تر څوچی یوه ډله له بلی د لی نه زیاته گټه په لاس راوړی په داسی حال کښی چې الله ددی ژمنی په وسیله تاسی په آزموینه کښی اچوی . اوهغه به دقیامت په ورځ هروهرو ستاسی داختلافونو حقیقت درته لوڅ کړی» .

قرآن مجید دیو امت جوړولو او دیوی ټولنی تنظیمولو له پاره نازل شوی اوددی له پاره چې دژړو جاهلی دودونو پرځای یوه نوی نړۍ له یونوی نظام سره رامینځ ته کړی یوه نړیواله بلنه یی وړاندی کړه چې په هغی کښی نه دتعصب له پاره څه مجال شته نه دقبیلی ، ولی یاجنس دلوړتیا تصور . یوازی عقیده ده چې دپیوندونو نیلوونکی ، دملیت تشکیلوونکی او دعصبیت ټینگوونکی ده . داسی اصول او ضوابط یی وضع کړل چی دټولنی بلکې دټولنو دفلاح تضمین کوی . په هغې کښې دافرادو ، ټولنو ، قومونو او نسلونو له پاره پوره اطمینان موجود دی او پرژینو ، قراردادونو او تړونونو باندی اعتماد کیدای شی.

دعدل توصیه یی کړی ده چې دفرد او ټولنی هوسانه تضمینوی ، دهری ډلی له پاره دخپل منځی تعامل په باب متینه قاعده ده چې دنفسی خواشهاتو نه تابع کیږی اوله مینی او کرکی څخه نه اغیزمنه کیږی . دنوم اونسب اوخپلولیو په اثر نه بدلیږی ، خپله لاره مخ په وړاندی وهی اوټول په یوه تله تلی ، دشتمنی اوبیوزلی په معیارونو نده ولاړه ، په یوه کچه ویش کوی ، خو دعدل ترڅنگ یی احسان له پاده ندی ویستلی ، که څوك دمینی اومروت په ولوله له نرمی نه کار اخلی ، که یو څوك چاته له خپلو حقوقو نه تیریږی تیریدلای شی .

په دی قاعده کښې داحسان مفهوم له عدل نه پراخ دی ، دزخمی پرزخم دملهم ایښودلو او دواجب اداکولو ترڅنگ دښیگڼې اوفضیلت حاصلولو له پاره هڅوونکی موجود دی . په دې مفهوم کښې هرسپیڅلی او غوره عمل راتلای شی ، دژوند پرټولو هغو دایرو چاپیر دی چې دبنده اړیکی له خدای سره ټینگوی ، دبنده اړیکی له بندگانو سره ټینگوی ، دبنده اړیکی دخپلی کورنۍ ، خپلی قبیلی ، خپل قوم او خپل ملت او په پای کښی انسانی ټولنی سره ټینگوی . خوددی اړیکو دټینگیدو محوری زړی او عمود روحانی مزي دي نه مادی تنابونه .

په دی قاعده کښی دبدیو، تجاوزاتو او ظلمونو غند نه شویده ، هره هغه چاره چې دعدل او احسان ، مینی او اخوت منافی ده اوسلیم فطرت یی نه خوښوی دهغی له مینځه وړل یی دخپلو منونکو دغاړی وجیبه معرفی کړی ده . دالکه چې هغه نظام اخلاقوی دکوم دجوړولو اوبرقرارولو له پاره چې دغه پاخه ضوابط اوقواعد وضع شوی دی .

دسالمو افرادو ، سالمی ټولنی او معقول ټولنیز نظام دټینگښت له پاره معاهدی او ژمنی اغیزناك رول لوبوی همدالامل دی چې قرآن مجید پرهغو باندی دوفا کولو خواته هڅونه کوی اودهغو ماتول حرام بولی په دی شرط چې دمعاهدی مواد مشروع وی . په تیره بیا هغه صورت کښی چې خدای وړباندی کفیل گرځول شوی وی ، دخدای دنوم په یادولو یی توثیق شوی وی . ددغسی ژمنو ماتول دالله په مقابل کښې سپین سترگی او گستاخی ده . په عقلی او اخلاقی لحاظ هم دسفیهانو او احمقانو کار دی چې یوه ورځ زیارباسی یو کار سرته رسوی ، داسی کار چې باید سرته ورسول شی او بله ورځ یی ړنگوی او خپله خواری اوزحمت په سیند لاهو کوی . قرآن څومره ښه مثال راوړی دی چې دغسی ژمنه ماتوونکی دهغی ښځی غوندی دی چې زیار وباسی اودتارو سپنځی وریښی او کله چې بشپړشی ټوټه ټوټه یی کړی او بیرته یی وسپړی ،

ص۳

ما ایماناً واعتقاداً ازمواقف شرعی و سیاسی اسلام جانبداری میکنیم

بقلم : عبدالرقیب « جهید »

فضاي ظلمت بار اوضاع جاري درخصوص مفاوضات وپیشنهادات راجع به حل سیاسي مسئله افغانستان بواعث رنج وتأثرات را برقلوب واذهان مسلمانان وامت مسلمه بار آورشده است . محافل استعماري وکفري وحلقات اجیر ودست اندرکار طاغوت شرق وغرب تلاش هاي مذبوحانه دارند تا بهر وسیله، ممکن جلو پیروزي انقلاب اسلامي وجهاد پیروزمند افغانستان را که منبعث از عزم واراده، آهنین وهدفمندانه از اعماق عقیده، اسلامي بمنظور اقامه، نظام عدل الهي درسرزمین مجاهد پرور ملت غیور وسلحشور وباشهامت کشور ما براه افتیده ، سد شوند وهمواره موانع ومؤمرات منافقانه وکفر آمیز را خوراك تبلیغات شوم وشیطاني خود گرده ودشمني علني ومخفي خود را با اسلام وجهاد میورزند دستیابي مجاهدین را به یك نظام طرف قبول همه، ملت وامت مسلمه که درنفس الامر حکومت خالص اسلامي است به نیرنگ ها ودسایس شیطاني وکفري از پذیرفتن آن إبا نموده وحاضر نیستند که این جهاد عظیم از راه نظامي وطبیعي به پیروزي خود برسد وملت مؤمن ما در آینده تحت سایه، نظام وشریعت اسلامي به زندگي سعادتمند خود درکشور بسر برند ، دلایل وبراهین انکار ناپذیر شرعي واسلامي حکم میکند تا بالمقابل همچو جوانب قسی القلوب وشدید العداوة مواضعي مستحکم ومواقفي معقول وقاطعي رادرپیش گرفت ومسلمانان بصورت فردي ومجموعي شرعاً مکلف اند تا از دریچه منطق وقو، عاقله وعقیده، قاطعه درچنین جهاد مقدس فکري ولفظي ورواني سهم بگیرند وبه هیچوجه آماده قبول جزیي ترین یاوه سرائي وزمزمه فرسایي طوطیان طماع کفر جهاني ومزدوران آنها نگردند وشدت وغلظت مؤمنانه خود را درین مراحل حساس وسرنوشت ساز انقلاب اسلامي حفظ کنند وما امید واریم انشاء الله کسانیکه تا آخرین مرحله، پیروزي حق برباطل وفراهمي اهداف عالي وبنیادي تحریك اسلامي وحصول آرمان پیشگامان وشهیدان نهضت اسلامي کشور درموقف خود پایداري واستقامت مي کنند به یاري خداوند توانا ودادگر برتمام کفار ، منافقین ، ملحدین ، زندیقین ومرتدین غلبه، کامل درنصیبش میگردد ووعده، استخلاف موعود درقرآنکریم را به ارث مي برند .

موضوعات پیشنهاد شده، پنج ماده یي سازمان ملل به نمایندگي سردبیر آن سازمان « بنین سیوان » بنیاداً رد ومرفوض است ومنافي روحیه، جهاد ومخالف اصول ومقررات شریعت اسلامیست که خوشبختانه به کرات ومرات ازطرف رهبران جهادي بویژه امیر اتحاد اسلامي استاذ « سیاف » شدیداً محکوم ومردود خوانده شده است واقعیت امرهم حکم میکند ملتي که مدت سیزده سال درسنگر خونین نبرد حق علیه باطل مي جنگد وبیش ازیك ونیم ملیون شهید را درراه اعلاء کلمة الله و اقامه، نظام اسلامي ایثار نموده، سرزمین شان به ویرانه یي مبدل شد ، این ازعقل ، ومنطق واستدلال به فرسخها دوراست که سرنوشت چنین ملت قهرمان ومجاهد را روس وامریکا تعین کند !! ملتي که یك ابر طاقت مادي وطاغوتي دنیارا درصحنه، مقابله به زانو درآورد وکارنامه ها وحماسه هاي مسلمانان باعزم وعقیده افغانستان درانظار جهانیان یك امر خارق العاده ومعجزه، قرن خوانده میشود دست آورد هاي آن را درمراحل پیروزي اش روس وامریکا وجهت هاي بیطرف « منافق » بهره برداري کنند !! وتن دادن به این نوع ترفند ها مطلق حماقت است وحکومتي راکه سران دوطاغوت وگرداننگان آنها « ملل متحد » براي ماعنوان میکنند چیزي تازه ي نیست همه درمجموع یك مرام وهدف منحوسي رادرپشت پرده، دارند که دریك جمله میتوانیم بگوئیم:

جهان کفر وکمونیزم تأسیس حکومت اسلامي را توسط مجاهدین مؤمن ما براي یك روز هم قبول کرده نمیتوانند وهرگز حاضر نیستند تا این حکومت راکه از راه

ص۳

« نوی نړیوال نظم » یا د امریکا دنوي واکمنۍ لپاره نوې طرحه

وروستی برخه

د نړۍ په اوسني سیاسی تاریخ کښې د کمزورو هیوادونو په چاروکښې د ځواکمنو استعماری هیوادونو لاس وهنو اومداخلو تل ناروا حضور درلودلی اوکولای شو ددغه ورل لامجو اوپیلاکونو اصلی طراحان د نړیوال استکبار » معرفی کړو .

ددغه کار دلیل په ټوله معنا ښکاره دی . ځکه د سیمه ایزو شخړو اوناکراریو راپاروول د نړیوال استکباراوښکیلاك دواکمنی غوښتونکو اهدافو اوموخو د پرمخ بیولو لپاره په وروستی نیمه پیړی کښې ډیره اغیزمنه مجرا وه اوهرکله چې دغی حربی د عمل په ډگر کښې لازم اغیزمن توب ندی درلودلای ، نو داستکبار مشرانو په خپله د جگړی اوشخړی ډگرته وردانگلی دی .

د بیلگی په توگه : له ۱۹٤۵ میلادی کال نه راپه دیخوا بریطانیا ۱۷ ځله ، فرانسه ، ۱٤ ځله اود امریکی متحده ایالات ۱۳ ځله د دریمی نړۍ له هیوادونو سره په جگړه کښې اخته شوي دی . البته په دغه شمیر باندی باید د فارس خلیج په وروستی جگړه کښې د نوموړو دری هیوادونو گډون هم وزیات کړو . پورتنی ذکرشوی موارد یوازی هغه جگړی او شخړی دی چې په نړیوال عرف کښې ورته « جگړه » ویل کیږی .

اوس چې شلمه پیړۍ د پای ته رسیدو په درشل کښې ده یوشمیر کسان په دی عقیده دی چې کوم بین المللی سیستم ، توازن اونظم چې په تیرو تقریباً ۵۰ کلونو کښې د نړۍ په سیاسی ، اقتصادی او نظامی اړیکو اوراکړې ورکړې باندی واکمنی کړې ، د بدلون اوسقوط په حال کښې دی . خود کوم نظم اوتعادل د ځړنگوالی په هکله چې د اوسنی نظم ځای نیسی ، د نظر د څښتنانو اواستراتیژستانو ترمینځ د نظر زیات اختلاف اوتوپیر موجود دی او ویلای شو چې بین المللی نظام همدا اوس یو انتقالی دوران طی کوی . داسی دوران چې پخوانی دوه قطبی اونظامی توازن اوتعادل به یی د څو قطبی نظام په لوری رهبری کړی . ددغه جریان په سپوری کښې به په تدریج سره د نړیوالی سیالی ډگرته نوی قدرتونه ورداخل شی اوځینی ځواکمن هیوادونه به له کمزورتیا اوکود سره مخامخ شی اودی ته به اړشی چې د سیاست ، اقتصاد اوتکنالوژی د سیالی په ډگر کښې د یوشمیر نورو بانفوذو هیوادونو وتنده ومنی .

په دغو سیاسی لوبو کښې د امریکا د متحده ایالاتو رول تل ترتله دوه مخی اوله تضاد نه ډك دی . امریکا د خپل ښکیلاکی سیاست په اجرا کښې ددغسی شوم سیاسی حرکت د لاتکلرم په لاره کښې هرډول تیریو اوجنایاتو نه ډډه نکوی اوهغی ته تفاوت نلری چې محکوم هیواد یی دوست وی اوکه دښمن . په دواړو صورتونو کښی دغه هیواد هڅه کوی چې د جاسوسی اداراتو اویا پوځی برغلونو په وسیله نړی ترخپل تأثیر لاندی راولی اوپه دی ترگه خپلی گټی تأمین کړی .

مخکښی له دی چې په نړۍ کښې د امریکا تیری کوونکی سیاست تحلیل اوتجزیه کړو ښه داده چې له دویمی نړیوالی جگړی نه راپدیخوا ددغه هیواد استعماری سیاست ته یوه کتنه وکړو .

کله چې دویم نړیوال جنگ پای ته ورسید اود امریکا پرځ د متفقینو د بریالیتوبونو په تکمیل کښې ستر رول ولوبوه ، نودغه هیواد په ستر نظامی ځواك باندی تبدیل شو اوبه ظاهره یی بوزیات شمیر دوستان ځانته پیداکړل . ددغو دوستانو په کتارکښې شوروی هم ځای درلود . دغه دوه هیوادونه چې یو وخت په جگړه کښې یو دبل دوستان اوملاتړ کوونکی وو له جگړی نه وروسته د مقبوضه سیمو او هیوادونو دویش په هکله له سختو ستونزو اواختلافاتو سره مخامخ شول . دغه اختلافات هغه وخت رامینځ ته شول چې ځینی غیر کمونیست حکومتونه د روسانو لخوا نسکوراوځینی نور له سخت خطر سره مخامخ شول ، دغه کار د امریکا واکمنان له زښت زیات وحشت او ویری سره مخامخ کړل په داسی ترگه چې دغی عقیدی د امریکا په خلکو کښې هم پراختیا وموندله چې د کمونیستانو اصلی هدف د امریکا په ښتمنی باندی واکمنی اوبالآخره په دغه هیواد کښې د پانگوالی سیستم سقوط دی . له همدی امله د امریکا تبلیغاتی وسایلو چې ددغو هیواد دحاکمه هیئت محرکه قوه یی تشکیلوله ، د خلکو ویره اوترهه دومره مبالغه آمیزه توجیه کړه چې زیاتو امریکائیانو داسی فکرکاؤ چې له کمونیستانو نه دکه نړۍ ډیره خطرناکه ده او د هیواد په دننه اوبهر کښې د هرانقلاب اوغوښتې اصلی عامل کمونیستان دی . دغه ذهنی اشتغال ددی سبب شو چې د امریکا واکمنان په نړۍ کښې د هر انقلاب اوغوښتې په وړاندی له ځانه شدید عکس العمل وښیی اود امریکا په دننه کښې هم هڅه وکړی ترڅو هر اعتراض اوناخوښی چې د هیوادونو د مالی او سیاسی بحرانونو په نتیجه کښې په مینځ ته راتله د عمومی افکارو په وړاندی بی اعتباره کړی اوعاملان یی خاینان معرفی کړی . د همدی تیوری پر بنسټ له دویمی نړیوالی جگړی نه وروسته د امریکا د نوی ډیپلوماسی محور له ټولو انقلابی غوښتنونو سره مخالفت اودښمنی وه اودغه ظالمانه اوله دښمنی نه ډك سیاست ته یی په ټوله نړۍ کښې ترهغه دوام ورکړ چې امکان یی درلود . له بلی خوا کوم عامل چې امریکا سره یی په دی برخه کښې مرسته وکړه هغه د انگلستان ، فرانسی ، آلمان او جاپان غوندی هیوادونو د پوځی ځواك کمزورتیا وه همدا لامل ؤ چې امریکا په دی پلمه چې نړۍ د کمونیزم له خطر سره مخامخ ده ، د اقتصادی مرستو اوپوځی تړونونو په وسیله یی د دریمی نړۍ د هیوادونو په استثمارولو پیل وکړ . ددغو سیاسی کشمکشونو نتیجه داشوه چې نړیوال سیاسی ډگر د کمونیستی اوپانگه والی نظامونو د سړی جنگ ترانغیزی لاندی راشی اود پوځی سیمه ایزو بلاکونو جوړولو نړیوال بحرانونه لازیات کړکیچن کړل . امریکا د خپل استعماری ځواك د پیاوړتیا لپاره له خپلو سرحدی پولونه په زرگونو میله لری په یو شمیر جگړو کښې مستقیمه برخه واخیسته او هدف یی په اصطلاح د « آزادی نړۍ » د ساتنی ترنامه لاندی پرنړی باندی د خپلی برلاسی ټینگول اود ملی آزادی بښونکو خوځښتونو سپوتاژ کول ؤ . ددغی برلاسی د تکمیل لپاره له د ویمی نړیوالی جگړی څخه وروسته د امریکا د تیریو او تجاوزاتو فهرست په لاندی ډول دی :

- د ۱۹٤۵ او ۱۹۵۰ میلادی کلونو په اوږدو کښې امریکا د چین د انقلاب د مخنیوی لپاره په دغه هیواد پوځی تیری وکړ .
- په ۱۹٤۸ او۱۹۵۳ میلادی کلونو کښې امریکا د فلیپین حب الوطن پاڅون د خپل آمرانه حکومت په مرسته وځاپه .
- په ۱۹۵۰ او ۱۹۵۳ میلادی کلونو کښی امریکایی پوځونو په کوریا کښی مداخلت وکړ .
- په ۱۹۵۸ میلادی کال کی د امریکا شپږمې سمندری بیړی د لبنان په خلکو گولی واوروڵي .
- په ۱۹٦٤ میلادی کال کښی امریکا ، بریطانیا اوبلجیم په گډه په کانگو برغل وکړ چې مقصد یی دغه هیواد د حکومت نسکورول ؤ .
- د ۱۹٦٤او ۱۹۷۳ میلادی کلونو په اوږدو کښې امریکا په ویتنام کښی د سخت تجاوز او تیری مرتکب شوه .
- په ۱۹٦۰ او ۱٦۹۵ میلادی کلونو کښی امریکا د دومینیکن په جمهوریت برغل وکړ اودغه هیواد یی ونیو .
- په ۱۹۵٤ او ۱۹٦۰ میلادی کلونو کښې امریکا په گواتیمالا باندی پوځی برغل وکړ .
- په ۱۹٦٤ میلادی کال کښی امریکا په پانامه پوځی برغل وکړاودغه هیواد یی اشغال کړ .
- په ۱۹۷۰ او ۱۹۷۵ میلادی کلونو کښی امریکا د کمبوچیا د آزادی غوښتونکی قیام د ټکولو لپاره وسله وال تیری وکړ .
- په ۱۹۸۳ میلادی کال کښی امریکایی پوځیانو د گراناډا هیواد ترخپلی ولکې لاندی راوست .
- په ۱۹۹۰ میلادی کال کښی یوشمیر امریکایی کوماندویی پوځیانو په پانامه برغل وړوړ اودغه هیواد جمهور رئیس یی برغمل اوبیایی امریکاته یوته .
- په ۱۹۹۱ میلادی کال کښی امریکا د یوشمیر غربی هیوادو په ملگرتیا په عراق پوځی تیری وکړ اودغه هیواد یی له خاوروسره خاوری کړ .

له دی نه ورهاخوا امریکا د دریمی نړۍ د ځینو هیوادونو لکه اندونیزیا ، یونان ، ترکیی ، بولیوی ، چیلی ، اوروگونه ، جنوبی کوریا او قبرص په کورنیو چاروکښی مداخلت کړی اود کودتاگانو له لاری یی خپل پلوی رژیمونه هلته قدرت ته رسولی دی .

اسرائیل اوجنوبی افریقا دوه هغه هیوادونه دی چې ټول نړیوال قوانین یی ترپښو لاندی کړي اوحتی د ملگرو ملتونو پریکړو ته هم د یو ټوټ قدری ارزښت نه

ص۳

امریکا و مسئله فلسطین

ترجمه وتلخیص ازاحمدزیاد

یکي از نقشه هاي شوم امریکا بعد ازجنگ جهاني دوم روش استعماري نوین درشرق میانه بود . امریکا که سالهاي متمادي باسیاست خارجي استعماري انگلستان وفرانسه همکاري نزدیك داشته وازمنافع استعماري ومستعمراتي این کشورها جداً دفاع میکرد ، به این فکر افتاد که به نحوي از انحاء جانشین آنها بشود . روي این منظور درصدد برقراري روابط باسران یهود درجهان شد و کمکهاي عظیم وبي حد وحصر خود را در اختیار رژیم غاصب اسرائیل قرارداد تا از آنکشور بمثابه نگهبان منافع امریکا درمنطقه علیه تمامي احتمالات تحولات ضد منافع غربي بطور عام کار بگیرد وبدینوسیله به هدف هاي که ذیلاً از آن یاد آوري میگردد ، سریعاً دستیابي پیداکند .

الف - جلوگري ازگسترش به اصطلاح خطر کمونیزم درمنطقه (بهانه دایمي امریکا).

ب - کمك به حفظ وبرتري جوئي هرچه قویتر اسرائیل براي ممانعت ازمبارزات مردم مسلمان منطقه .

ج - دسترسي به منافع طبیعي وتأمین جریان نفت کشورهاي شرق میانه براي غرب .

د - حفظ وتحکیم رژیم هاي طرفدار امریکا تحت عنوان حکومت هاي معتدل ومیانه رو وخواهان صلح .

هـ - تضمین سرمایه گذاریهاي شرکت هاي امریکایي وچند ملیتي .

و - جلوگیري ازبرخورد مسلحانه وبروز هر نوع ماجرا جوئي وبرخورد بین امریکا وشوروي (اکنون بافروپاشي وسقوط کمونیزم این خطر برطرف گردیده

ز - حفظ وحراست همکاریها وهمبستگي هاي فرهنگي ، اجتماعي واقتصادي از راههاي گونا گون ازجمله اشاعه فساد والقاء تمدن باصطلاح تجدد مآبانه غربیها به این کشورها ودراصل خمود نگهداشتن مردم ونیروهاي جوان آنها وبالآخره استفاده ازفضاء بنادر ، پایگاهها ، ارتباطات ودیگر وسایل امنیتي منطقه میباشد .

اگرملاحظه شود درهمین هدفهاي امریکا تضاد هاي روشني بچشم مي خورد ازیکطرف امریکا ازبرخي ازکشورهاي اسلامي حمایت میکند ویا آنها تمایل وعلاقه ازخود نشان میدهد وازطرف دیگر بطور وقیحانه وبدون قیدو شرط از اسرائیل جانبداري میکند . جاي تأسف است که بامشاهده این سیاست دوآتشه ، امریکا بعضي ازکشورهاي اسلامي وعربي آگاه یا ناخود آگاه به آسیاب این سیاست هاي استعماري آنکشور آب میریزند وبه آن مباهات هم مي کنند .اینها از آن غافلند که این امر ناشي از سابقه طولاني تمدن مشترك (تمدن یهودي - مسیحي است که اسرائیل را بصورت پل غرب درقلب عالم اسلام در آورده تا هرگونه کوششي را درجهت حرکت فرهنگي ومدني درمنطقه راسرکوب کند . همچنان آنها از این هم غافلند که هیئت حاکمه ظاهري امریکا بشدت تحت نفوذ شبکه مخفي گردانندگان اصلي سیاسي کشور خود هستند ، سیاست خارجي امریکا چه ازجناح حزب جمهوریخواه وچه از حزب دیموکرات ، دربست باسیاست پشتیباني امریکا از اسرائیل همآهنگ است . رهبران ظاهري امریکا با آنهمه دستگاههاي پیچیده وپر پیچ وخم از قبیل ، سنا ، کنگره ، دیوان عالي ، وزارت خارجه ، کمیسیونهاي مختلف امنیتي کاخ سفید باتمام ادعاهاي آزادیخواهي و آزادي طلبي خود دربند وسانسور صهیونیست هاي مهاجر وسرمایه داران یهودي مقیم امریکا وصاحب بورس وال استریت هستند وشهامت تخطي ازکوچکترین اوامر این عناصر صهیونیستي ندارند . البته این امر سابقه، طولاني داشته وهیچ سیاستمدار امریکا بي بدون تضمین نظرات این اختاپوس هاي مزاحم اجازه خدمتگزاري را به ملت امریکا ندارند . این اختا پوس هاي یهودي در امریکا - بطور اخص - ودرغرب بطور اعم - نماینده، تمام عیار قدرت اقتصادي ، فرهنگي سیاسي وتبلیغاتي است . که نقش عمده وبسزای درموضعگیري امریکایي وغربي را ایفا مي کند بطوریکه هرحکومت امریکایي بناچار بایستي حساب خاصي براي آن بازکند . نمونه عیني این فرمانبرداري - اطاعت کور کورانه دولت امریکا دربرسمیت شناختن موجودیت اسرائیل درسال ۱۹٤۸ میلادي پس از اعلام دولت یهود است که علي الرغم مخالفت وزارت خارجه وقت امریکا صورت گرفت . درآن زمان متخصصین امریکا درامور شرق میانه عجله دربرسمیت شناختن اسرائیل را ازسوي امریکا صلاح ملي نمي دانستند . ترومن رئیس جمهور وقت امریکا درخاطراتش مینویسد : (مارشال ، منظور وزیر خارجه وقت امریکا مسئله فلسطین رایك موضوع داخلي مي دانست).

باتوجه به این مطلب ویاسابقه ذهني از سایه مخوف شبکه، پنهانيِ سردمداران امریکا که بیشتر ازعناصر افراطي وفعال صهیونیست میباشند ، آنها فشار به هیئت حاکمه ظاهري امریکا را تشدید کردند وقصر سفید راکه دراصل ازمهره هاي خود شان بود درتسریع به قبولاندن این بیعدالتي تاریخي نمودند صهیونیست ها که تقریباً ۹۰ درصد ازاهرمهاي تبلیغاتي امریکا چون : رادیو تلویزیون ، مطبوعات ، آژانس خبري ، تحلیل گران سیاسي ، متخصصین اطلاعاتي ، میسپونزر هاي خیریه ، کمپني هاي فلم سازي ، گالري هاي هنري ، ونقاشي میدان هاي ورزشي وجوایزعلمي را دراختیار دارند ، با تمام امکانات دست داشته شان درتلاش هستند تا این شبکه را به مردم امریکا القا، نمایند که مبادا اندسته، از آوارگان یهودي که ازقتل عام هیتلر جان سالم بدر برده بودند سربار جامعه اقتصادي و رفاه طلب امریکا شوند ونتیجتاً ازدولت ترومن خواستند که رژیم جدید التأسیس اسرائیل را بشناسند . این امر ثابت مي کند که خود جامه امریکا نیز نخستین قربانیان فشار تبلیغاتي کشور خود هستند که در اصل پایه واساسي ندارد .

جنگ ۱۹٦۷ بین اعراب واسرائیل که باحمایت نظامي امریکا به نفع اسرائیل وشکست اعراب تمام شد باردیگر چهره تجاوز گر امریکا را درشرق میانه آشکار ساخت واین راهم نشان داد که اسرائیل ومتحدانش در امریکا که همان صهیونیست هاي جهاني است ، تاچه اندازه درسیاست خارجي امریکا وشبکه رهبري مخفي نفوذ دارند .

امریکائیها که دائم ازدخالت سازمان ملل در رفع مناقشات جهاني ، دم ازمذاکره مي زدند زمانیکه به تعقیب جنگ ۱۹٦۷ وشکست اعراب درآن جنگ ، شوراي امنیت قطعنامه شماره ۲٤۲ مؤرخ ۲۲ نوامبر همان سال را به تصویب رسانید واسرائیل به این عنوان که سازمان ملل متحد یك تشکیلات ورشکسته است ازقبول آن سرباز زد چراسکوت نمودند ؟ زیرا قطعنامه، شماره ۲٤۲ شوراي امنیت خواستار اعاده سرزمین هاي اشغالي که توسط ارتش متجاوز رژیم غاصب اسرائیل درجنگ ٥ روزه ۱۹٦۷ به تصرف این کشور درآمده بود ، به صاحبان اصلي شان بود .

صهیونیست ها به اتکاء به قدرت امریکا این قطعنامه را باکمال جسارت نادیده گرفته واعتنائي به آن نکردند . وروسها نیز از آن چشم پوشي کردند ! !

ادامه دارد

ډیپلوماسي مهارت اوکه ..

